محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۱۰۸

# محسن تفسير

له قرآنه يو څرک

## ۱۰۸ ــــ د «کوثر» سورت


ژباړه او څېړنه :

احمد حسين «عنايت»

د کوثر سورت تشريح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين الله په نامه

سورةالکوثر

## د کوثر سورة (۱۰۸)

د «کوثر» سورة مکي دی (۳) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰۸) په نزول کې (۱۵) سورة دی د «عاديات» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

پخواني او اوسني ډيری مفسرين او روايت کوونکي په دې نظر دي چې دا سورت مکي دی او همدا راز د سورت متن او له مکي سورتونو سره يې ډېره نژدې اړيکه او د مکې له پېښو سره د سورت د موضوع انطباق او اړخ لګونه پر دې دلالت کوي چې دا سورت مکي دی. خو بيا هم ځېنو محدودو کسانو دا سورت مدني بللی دی او دوی هم د حضرت انس بن مالك پر يو روايت استدلال کړی او دا سورت يې مدني ګڼلی خو زموږ له ليده دا استدلال قانع کوونکی نه دی او نه ښايي دا سورت مدني وګڼل شي. بلکې د جمهورو مفسرينو د نظر په خبر ددې سورت مکي ګڼل منطقي برېښي.

ددې سورت د نزول د شأن په اړه ويل شوي چې پيغمبر(ص) له خديجې څلور لوڼه درلودې: زينب، رقيه، امّ کلثوم، او تر ټولو کوچنۍ يې فاطمه(ع) وه او دوه زامن يې پيدا شوي ول، قاسم(رض) او عبدالله(رض). چې زامن يې په کوچنيتوب کې مړه شول يو له بعثته مخکې، بل زوی يې د بعثت په پيل کې وفات شو، او لوڼه يې پاتې شوې وې. لا د مکې دوران دی. دښمنان يې خوښ شول، ويې ويل هغه ابتر شو، هغه په ټوليزه توګه منقطع الآخِر شو، هغه بيخي بې بنياده شو؛ کوم سړی چې زوی نه لري ددوی په نظر نور نو څوک نلري چې نوم يې وساتي او له«دين» څخه يې پاسوالي وکړي. چون د هغوی اندنه قبيله اي وه ويل يې: دا که اولاد ونلري او زوی ترې پاتې نشي له ده وروسته څوک راځي چې دين يې وساتي،نو دا ابتر دی. ابتر يعني ناقص، نيمګړی. الله ورته دا آيتونه د ډاډګيرنې په موخه نازل کړل؛ او الله ورته وويل: «إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ».

### له مخکيني سورة سره اړيکه او د سورة د منځپانګې چورليځ:

ددې سورة نوم چې د هغه له لومړي آية څخه اخېستل شوی دی، د مخکيني سورة له نوم سره چې د هغه له وروستي آية څخه اخېستل شوی دی، له دوو اړخونو او مخونو

څخه يو واحد حقيقت څرګندوي. په دې ترتيب ددې دوو سورتونو پيوند د هاغې کړۍ په توسه چې له يو لورې پر «ماعون» [د مخکيني سورة وروستۍ کليمه] او له بل لورې پر «کوثر» پورې نښتې ده څرګندېږي.

د ماعون او کوثر دوه کليمې له لغوي ليده يو شان او ورته معناوې لري په داسې ډول چې لُغتپوهانو [ويپوهانو] د هر دواړو لپاره يو شان  تعريف کړى دى:
ماعون: د معن مبالغه= خوځېدونکي چينه، ډېر خير، بډايه زياتېدنه، ډک او ګڼ زېاتوالى.
د ماعون په سورة کې څرګندېږي چې څه ډول دنياپالي قريش د رزق او امنيـت نعمتونـه چې له الهي رحمت او خير له فيض ناکو منـابعو سرچينـه نيسي ـ لـه بېوزلـو محرومينـو او يتيمانو څخه سپموي او د هغوی له برخمنتيا مخنيوى کوي [ويمنعون الماعون].

د «ممانعت کولو» مسئله د قرآن په نورو آيتونو کې د «خير» [مادي ګټو] په اړه، د خـداى له ذکر او د هغه له سجدې وروسته چې معنوي خير دى راغلې ده. له هغې ډلې:
«وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيرُ مَنُوعًا» او چې لږ شانته خير [او ښېګڼه] ورته ورسيږي. [نورو ته د خير رسولو] خنډ ګرځي [او بخل کوى]. [= نفس يې د خير مخنيوى کوي]. [معـارج٢١(٧٠:٢١)] – « مَنَّـاعٍ لِلْخَيرْ مُعْتَدٍ مُرِيبٍ» [همافه] د خير [هرکار] لپاره تل مخ نيوونکي [او د خلکو پر حقونو] تېري ګر او شکمن ته. [ق ٢٥(٥٠:٢٥)] – «مَنَّا عٍ لِلْخَيرْ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ» [همافه له نيکيـو د خلکـو] ډېـر منـع کـوونکي او [د نـورو پـر حقونـو] تېـرى کـوونکى، [او] ځـان پـالى [ګنهګـار] دى. [قلم١٢(٦٨:١٢)]– « وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ ...» او تر هغـه بـه ستر ظالم څوک وي چې [له خپلو ډله ايزو تعصبونو سره] په مسجدونو [او لمونځتونونو] کـې د خداى د نوم له ذکره مخنيوى وکړي ... [بقره١١٤(٢:١١٤)] – «قَالَ مَا مَنَعَـكَ أَلَّا تَسْـجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ... » [خداى] وويل: کوم لامل ته له دې چې سجده وکړې منع کړې، کله مې چې فرمان درکړ؟... [اعراف١٢(٧:١٢)].

هغوى په دې وسيله په ټولنه کې «د خير او رحمت سرچينې» وچوي، او فقـر، بېـوزلي او محروميت، ظلم او ځور ته په ټولنه کې پراختيا ورکـوي. د «کـوثر» پـه سـورة کـې ددې چينې په وچولو کې د کافرانو له هڅو سره سره، د هاغه فيّاض «کوثر» په اړه خـبره کـوي چې پيغمبر ته عطا شوى دى ، هاغه کوثر چې تلپـاتې او لايـزال خـوټېږي او د حقيقـت تږي خړوبوي. [إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ].

ددې دوو سورتونو پر نومونو سربېره چې پر ګډ چورليز ځای پر ځای دي، د هغوی مضمونونو هم په ورته منځپانګې کې اړيکه نيولې ده. چې له دې جملې د «صلاة» او «ورو ته دخوراك ورکولو» موضوع ده. چې عيناً په دواړو سورتونو کې تر پاملرنې لاندې نيول شوي دي. د ماعون په سورة کې له هاغو کسانو يادونه کوي چې د خپل نمونځ په نسبت د غفلت، هيرونې او اعراض حالت لري [الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ]. د کوثر په سورة کې د کافرانو له اړخه له داسې بې پامۍ سره سره، پيغمبر اکرم ته فرمان ورکوي د خپل پالونکي ښتن لپاره نمونځ وکړي [فَصَلِّ لِرَبِّكَ]. د ماعون په سورت کې ورو ته د طعام ورکولو په اړه د کافرانو نه لېوالتيا تر ملامتيا او غندنې لاندې نيسي [وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ] او په دې سورة کې دداسې بخل او بې سامانۍ د جبران لپاره، پيغمبر ته توصيه کوي چې اوښ [د عربانو تر ټولو ګران او ارزښتناك څيز چې لري، ورو ته د خوراك ورکولو لپاره] قرباني کړي.

په دې ترتيب لکه څنګه چې د «ماعون» نوم د خير د چينې د وچولو [يمنعون الماعون] لپاره د کافرانو د هڅو يادوونکی دی، د «کوثر» نوم د حضرت رسول اکرم له خيره او برکته ډك وجود کې د الهي رحمت او فضل د فياضې چينې يادوونکی دی. هاغه څه چې د دواړو سورتونو په متن کې هم راغلي او پر دې تضاد او دوه ګونې والې ګويا دي.

**تکاثر او کوثر** [له بهره دننه ته او له دننه بهر ته يون]:

د کوثر او تکاثر دوه سورتونه، چې هر دواړه سورتونه د بعثت په لومړي کال په مکه کې نازل شوي دي، د ډېربښت او زياتوالي دوه اړخونه د مادياتو او معنوياتو په دوو ډګرونو کې څرګندوي. تکاثر [د تفاعل په باب کې] د مادي ګټو لپاره د وګړو پرله پسې او بې بريده سيالي، په متقابله بڼه له موخې او عقلانې سرليك پرته، څرګندوي. دا عمل چې له چاپيريال او خلکو سره په غبرګون کې تل تصاعدي حالت غوره کوي. له بهر څخه دننه ته يو شنډ حرکت دی او له اسراف او مصرف پرته کومه پايله نلري. په داسې حال کې چې کوثر يو زېږوونکی او خپلځوښه حرکت دی او له دننه بهر ته يو بهير دی چې لايزال او تلپاتې غځېدنه لري. دنياپالي انسانان د مرګ تر دمه په تکاثر پسې لګېدلي دي [أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ]. په داسې حال کې چې حقپالان خپله تنده له هاغې چينې څخه، چې پالونکي ښتن د پيغمبر له سپېڅلي وجود څخه جاري کړې ده، خړوبوي. او په هر حال کې د هاغه اختيار له لامله چې خدای تعالی انسان ته عنايت کړی، د ژوندانه

په موده کې هر دواړو ډلو سره، په هره لار کې چې انتخاب کړې یې ده مرسته کوي او د کرم او عطا له دریابه هر یوه ته هر هغه څه چې له مادیاتو او یا له معنویاتو څخه غواړي او وړتیا یې حاصله کړي وي وربښي:

«كُلًّا نُمِدُّ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا» ـ [ اسراء۲۰(۱۷:۲۰)] ـ مونږ هر یو ته، هم دوی ته او هم هغوی ته ستا د پالونکي څښتن مرسته رسوو، او ستا د پالونکي څښتن عطا [له هیچا څخه] نه سپمول کېږي.

پورتنی آیت څرګندوي چې د پالونکي څښتن «عطا»، که هغه دنیوي وي یا اخروي، د بندګانو په لاسرسي کې ده، او هر څوك د خپل قابلیت او ظرفیت پر حساب، له هغې برخمن کېږي. لکه څنګه چې د لیاقت او وړتیا په «تناسب» دا «عطا» ډېرښت مومي، د شخص رسول اکرم^(ص) په اړه چې د خلق الله خیر دی، او تر ټولو انسانانو ډېر وده موندی او وړترین دی، ښایي د «عطا» کچه د هاغه حضرت له قدر سره متناسبه وي او له همدې لامله دی، چې د پیغمبر له خیر او برکته ډك وجود د قیامت تر قیامه جاري دی او تلپاتې اغېزې لري، او د هغه سیرت او سنت تل د پرله پسې نسلونو لارښود او هدایتګر دي، پالونکي څښتن هاغه حضرت ته «کوثر» عطا کړی دی، چې لکه د څوښاني او خوتېدونکي چینې په څېر، تلپاتې او لایزال دی، چې فیض او ګټه یې ټولو ته رسېږي.

په دې اړه چې کوثر څه څیز دی، مفسرینو مختلف قولونه وړاندې کړي دي چې ډېری یې له کوثره موردونه او مصداقونه دي. داسې بریښي؛ ټول هاغه څیزونه چې ویل شوي پر دې هدایت د فرعې په توګه دي چې د وحی له لارې د لوست وړ کتاب [قرآن] په بڼه پر هاغه حضرت نازل شوی دی. دا هدایت د یو نور په بڼه د پیغمبر پر زړه په ځلېدو شو، چې د بېلارې او لارورکې پردې یې لېرې کړې او ډېرې زیاتې اغېزې یې پر ځای پرېښودې چې هر یو د کوثر له اصلي بهیره یوه شعبه یا څانګه ده. که ددې کوثر اغېز د پیغمبر^(ص) په وجود کې په نظر کې ونیسو، ښایي د هاغه «علم او حکمت» تحقق وي چې قرآن د مختلفو انبیاؤ په اړه له هغه یادونه کړې ده.

د غور وړ خبره دا چې په دې سورة کې په ماضي بڼه هاغه حضرت ته د کوثر له اعطا یادونه کوي: [إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ] او د «ضحی» په سورت کې د مستقبل مضارع په بڼه د داسې یو څیز له اعطا چې ماهیت یې نامشخص دی: [وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى].

## د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿٣﴾

أَعْطَى= يو څيز يې وروبښه، په لاسرسی کې يې ورکړ ـ أَعْطَيْنَاكَ= تاته مو عطا کړ، تاته مو درکړ، تاته مو دروبښه ـ الْكَوْثَرَ= ډېر زيات خير او برکت، خوټېدونکي چينه، ډک او بډايه بهير ـ صَلِّ= نمونځ وکړه، مخ کړه، فرمان وړونکی اوسه ـ انْحَرْ= قرباني وکړه، اوښ قرباني کړه، ذبح کړه ـ شَانِئَكَ= ستا دښمن، ستا بد غوښتونکي، ستا کينه کښ دښمن، ستا بد چلن دښمن ـ الْأَبْتَرُ= بېل، جدا، له شا پرې شوی، لکۍ پرې شوی، غوڅ نسلی، جرړې پرې شوی، بې ستې، بې بنياده، بې زوزاته، بې اولاده، بې نوم او بې نښان، شنډ، لکۍ غوڅی، بې ټيکاوه، مقطوع الخير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾

په رښتيا چې موږ[۱] تاته کوثر[۲] [= خوټېدونکي او ځوښنده سرچينه/ برکت او ډېر زياتېدونکی خير] درعطا کړی دی.

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾

نو [ددې نعمت په پاس] خپل پالونکي ښتن ته دې نمونځ وکړه،[۳] [هغه ته مخه کړه] او قرباني وکړه.[۴]

إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿٣﴾

له شک پرته ستا کينه کښ دښمن[۵] خو به پخپله ابتر [= بې زوزاته، غوڅ نسلی او بې ستې] وي.[٦]

| إِنَّا | أَعْطَيْنَاكَ | الْكَوْثَرَ | فَصَلِّ | لِرَبِّكَ |
|---|---|---|---|---|
| په رښتيا چې موږ | تاته عطا کړی | کوثر (زياتېدونکی خير) | نو نمونځ وکړه | خپل پالونکي ښتن ته |

| وَانْحَرْ | إِنَّ | شَانِئَكَ | هُوَ | الْأَبْتَرُ |
|---|---|---|---|---|
| او قرباني ورکړه | په رښتيا چې | ستا کينه کښ دښمن | هغه پخپله | بې ستې، بې نسله |

۱ ــ د «نا» د جمعي متکلم ضمير [په : اِنَّا أَعْطَيْنَاكَ کې، د اِنِّي اَعْطَيْتُکَ پر ځای] پر الهي مشيّت د کوثر په اعطا کې د ډېرو عاملونو پر نقش [له هغې جملې د وحی پر پرښتې او د وحـی پر اخېستونکي] دلالت کوي، له يولورې مطلق «فاعليت» دی او بل لور ته «قابليـت»، چې په خپل پراختيا مونږي ظرفيت او وړتيا کې د غيبي واسطو په مرسته، کوثر جاري کوي.

۲ ــ که د «تکاثر» سورة چې د کوثر له سورة څخه مخکې د بعثت د لومړي کال په لومړيو کې [د تنزيل څلورمه ډله چې د علق، مدثر او عصر له سورتونو څخه وروسته] نازل شوی، مـادّی او توکيزي ډېرواله، چې د تفاعل په باب کې [تکاثر] له نورو سره پر رقابت دلالـت کـوي، غندلې ده، په دې سورة کې لـه «کـوثر» څخـه، چـې ذاتي او زياتېـدونکی او لـه ځانـه خوټېدونکی دی، او د خدای ورکړه ده، يادونه کوي.

کوثر د مبالغې صفت دی چې بېشمېره مصداقونه لري او مفسرينو تر ۲۶ موردونو ذکر کړي دي. لکه: په جنت کې يوه وياله، د حضرت رسول د اولاد کثرت، د پليونـانو ډېروالـی، د قرآن بې شمېره فضيلتونه، د پيغمبر د ياد او مقام ترفيع [لوړتيـا] او .... سره ددې چــې دا ټول موردونه کولی شي د کوثر د ټولګې برخه وي، خو داسې برېښي چې د معرفه په توګه د «الکوثر» ذکرېدل د پيغمبر لپاره د هغه د مشخصوالي، څرګندوالي او ټاکلوالي نښانه ده.

دا سمه ده چې هاغه کوثر [زياتېدونکی او بې پايانه] د قرآن او اسلامي شريعت په څېر تـر دې بريده بل کوم مصداق نلري، خو څوک کولی شي له دې انکار وکړي چــې د پيغمبر له رحلت وروسته، په ځانګړې توګه د بني اميه، بني مروان او بني عبـاس پـه دوران کـې چې د پرون دښمنان يا رياکاره دنياپال د اسلام پـه نامـه او د رسـول الله د ځـای ناسـتي [خليفه] په ادعا او پلمه ځواک ته رسـېدلي ول، دا امانـت پـه تـوليزه توګـه د پيغمـبر د اهلبيت پر اوږو وروستيو نسلونو ته ولېږدول شو.

ډېره مهمه کاري خبره دا چې د عربانو د قبيلوي فرهنګ او دودونو پرخلاف چې د وګـړي د نوم او شتمنۍ تلپاتېتوب يې د هغه په نارينه نسل کې ګڼل، د اسلام د پيغمبر(ص) نسـل د هغه له لور فاطمةالزهرا(رض) څخه وغځېد. ددې سـورة وروسـتی آيـة او د هغـه سـياق پـه طبيعي توګه ددغه پيغام اوچتوونکي او د انتقال لېږدوونکـي تـه، او د پيغمـبر د دښـمنانو پرېکون، غوڅېدو او بې اغېز پاتې کېدو ته اشاره لري.

۳ ــ له هاغه تقابل او پرتلې څخه چې قرآن د قيامة په سورة کې  د تصديق او تکذيب، او همدا راز د صلّی او تولّی تر منځ په ګوته کړی دی، کولی شو ومومـو چـې د صـلّی معنـا

مخکونه او اقبال، او تولّی شاکول او لېرې کېدل دي. «فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّى، وَلَكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلَّى» [قيامة ۳۱ (۳۱:۷۵) او ۳۲]. په صلوات کې هم، چې د صلاة سره لـه يـوې ريښې دی، د پاملرنې، مخ راوړنې، ملاتړ او تائيد معنا برلاسې ده.

لـه دې تعريـف سره، د خـدای او پرښـتو صـلوات پـر پيغمـبر او پـر ټولـو مؤمنينـو [احزاب۴۳(۴۳:۳۳) او ۵٦ آيتونه]، پر هغوی لـه رحمـت او هـدايت سره مـل مخکېنـه او پاملرنه، او د مؤمنينو صلوات پر پيغمبر، له پاملرنې او د هغه له سنّتو د زده کـړې سره مـل مخکېنه، د «اسوةٌ حسنةٌ» [«د» ښه مخکښ، ښه سر لارې او «د» ښه اقتدا] په عنـوان ده. د هر يوه نعمت شکر له هاغه نعمته بهترينه او غوره استفاده له نعمت ښونکې خدای څخه په شکر او منه او د هغه د خلکو په چوپړ کې نغښتی دی.

هاغه پيغمبر چې د کوثر نعمت يې موندلی دی، ددې نعمت اړينتيـا داده چې هغـه تـه ډېره نژدې مخکېنه ولري، او د خپلو پليوناو لپاره دا نعمت جاري کـړي. څرنګـه چـې دا سورة د بعثت د لومړي کال په لومړيو کې نازل شوی دی او تر دې مهاله لا د نمانځه ښـه، مهالونه او رکنونه تشريع شوي نه ول، بايد له صلاة څخـه مطلـب همـدا لـه خـدای سره د معنوي اړيکې ټينګول وي.

۴ ــ ګواکې د اوښ قرباني کولو ته «نحر» او د پسه قرباني کولو ته «ذبح» ويل کيـږي. پـه قرآن کې راغلي دي چې د څورب اوښ قرباني کول له الهي شـعائر څخـه دي [حـج ۳٦ (۲۲:۳٦) – وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُمْ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ ....] لکه څنګـه چـې د حـج ټـول مناسـك سيمبوليك او ښکارند پلو لري، د اوښ قرباني کول هم خدای ته د نژدېوالی ډېـری بريـد څرګندوي؛ چې وېي فرمايل: «هيڅکله نېکی ته نه رسېږئ مګـر هاغـه څـه چـې ستاسـو خوښېږي انفاق کړئ» [آل عمران۹۲(۳:۹۲)]. د څورب اوښ قرباني کول له زياتېـدونکي کوثر سره متناسب دی، ځکه چې اوښ عربو ته د ډېر اهميت وړ يو څيز وو.

۵ ــ «شَانِئَ» د «شَنا» له ريښې کينه کښ دښمن ته ويل کيږي او بغـض او کينـې تـه شَـنَأن وايي [مائده ۸(۵:۸) – ... وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا ...].

٦ ــ بَتر، د حيوان د لکۍ پرې کول دي، عربانو هاغه سړي تـه ابـتر ويـل، چـې نرينـه زوزات يې نه درلود او نسل او نوم او شالړ يې له هغه وروسته غځونـه نـه مونـده. د اسـلام پيغمبر ګواکې له خديجې دوه زامن د قاسم او عبدالله په نومونو درلودل چې هر دواړه په

وړوکتوب کې له دنيا ولاړل [قاسم په مکه له بعثت مخکې، او عبدالله په مکه کې له بعثت وروسته]. د مفسرينو په وينا، د پيغمبر دښمنانو له دې موضوع څخه د هغه پر ضد د ژبې د زخم په توګه او د ځان لپاره د زړه د تسلۍ په توګه [ د هغه د ذکر او پيغام په غلي کولو کې] استفاده کوله. د «إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ» وعده او ژمنه له دې زيات چې د چا پر ضد د شعار يا پېغور او ملنډو جنبه ولري، د حق د بقا او د باطل د زوال بيان دی. مولوي په خپله مثنوي کې د حضرت رسول د کتاب او نوم د غږ د اوچتوالي مصداقونو ته اشاره کړې ده چې ځېنې بيتونه يې په دې ډول دي [د مثنوي دريم دفتر له ۱۱۹۸ بيتونو وروسته]:

مصطفی را وعده کرد الطاف حق      گر بميری تو نميرد اين سبق
من کتاب و معجزت را رافعم      بيش و کم کن را ز قرآن مانعم
رونقت را روز روز افزون کنم      نام تو بر زر و بر نقره زنم
چاکرانت شهرها گيرند و جاه      دين تو گيرد ز ماهی تا به ماه
تا قيامت باقی اش داريم ما      تو مترس از نَسخِ اين ای مصطفا
آن چنان کرد وزان افزون که گفت      او بِخُفت و بخت و اقبالش نخفت

---

## د کوثر سورت له لومړي تر دريم [۱ ـ ۳] آيتونو تشريح:

په قرآن کې دوه سورتونه تر ټولو سورتونو کوچني دي: «کوثر» او«عصر». او له همدې لامله په لمونځونو کې همدا دوه سورتونه ډېر ويل کېږي، ځکه چې ژر ختمېږي، هر دواړه سورتونه دوه کرښې دي. البته د «کوثر» سورة د «عصر» له سورة څخه لنډتر دی او يوازې لس کليمې دی. د لس عدد لکه څنګه چې ويلې مو دي، بشپړ عدد دی اد سورة په عين حال کې چې د قرآن تر ټولو لنډ سورة دی، داسي برېښي چې نوم يې [کوثر] له معنا ډک دی، «کوثر» يعني ډېر زيات د هرې ښېګنې، ډېر زيات حاصل ورکوونکی، خوتېدونکې او ځوښانه چينه. ددې سورت حجم ترټولو لږ [حداقل] او معنا يې تر ټولو ډېره [حد اکثر] ده.

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ. موږ تاته کوثر درکړ. فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ. نو د خپل پالونکي څښتن لپاره دې، فَصَلِّ «نمونځ وکړه». وانْحَرْ، او اوښ قرباني کړه. إِنَّ شَانِئَكَ

هُوَ الْأَبْتَرُ. دا ستا دښمن دی چې بې بنياده او بې لړۍ او بې نسبه دی او جرړه يې غوځه او پرې کړې شوې ده.

د کوثر لفظ چې دلته څنګه کارول شوی دی د هغه پوره مفهوم خو به زموږ په ژبه کې لا څه چې د دنيا په هيڅ ژبې کې د يو لفظ په توسه ادا نه کړای شي. دا د کثرت د مبالغې صيغه ده چې لغوي معنا يې بې بريده کثرت دی، خو په کومه موقع کې چې دا لفظ کارول شوی دی له دې څخه يوازې د کثرت نه بلکې د خير او ښېګڼې او د نعمتونو کثرت، او د داسې کثرت مفهوم ترې راوځي چې د افراط او زياتوالي بريد ته رسېدلی وي او له دې څخه مطلب يو خير يا ښېګڼه يا نعمت نه دی بلکې د بې شمېره ښېګڼو او نعمتونو کثرت دی.
نو أَلْكَوْثَرْ په لغت کې ډېر خير ته وايي ګواکې په کثرت کې مبالغه ده او له هغه څخه مقصد ټولې هاغه پيرزوېنې دي چې د حضرت محمد(ص) ته او د هغه اړوندو ته عطا شوې دي له نبوت او د ذکر له رفعت او لوړتيا، پر کفر برلاسی، کثير علم او د خدای د کتاب او عظيم خُلق په توسه د خلکو هدايت او د کوثر نهر او ....، چون کوثر مطلق دی دا ټول خيزونه په ځان کې رانغاړي.
ښه، په ښکاره کې خو دا سورة ډېر لنډ دی او که د نزول له چاپيريال او ډګرونو سره يې کافي آشنايي ونلرو، تر يوې کچې پورې مبهم هم دی. مخکې مو د «تکاثر» سورة لوستلی دی او که په ياد مو وي، هلته مو دې سورة ته يوه نغوته هم کړې وه. ددې دواړو سورتونو نومونه له يوه اصل او رېښې دي:
يعني «تکاثر» او «کوثر» هر دواړه د «کَثرَ» له رېښې دي. خو «تکاثر» د تفاعل په باب کې دی او تفاعل پر دوه اړخيزوالي او تقابل دلالت کوي. په «تکاثر» کې دوه اړخيزه يا څو اړخيزه سيالي او رقابت شتون لري او هر لوری او اړخ هڅه کوي چې هر څومره زياتر پر خپل ځواك او شتمنيو ورزيات کړي.

د تکاثر په سورة کې فرمايي: « أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ.» ـ «تکاثر» تاسو پر ځان بوخت کړي ياست أَلْهَاكُمُ، يعنې يوې چټي، بيهوده او لهو چارې تاسو بوخت کړي

ياست، نه يو مهم او ارزښتمن کار. تر کومې؟ « حَتَّـى زُرْتُـمُ الْمَقَـابِرَ.» ستاسـو د ژوند تر پايه او تر هاغه مهاله چې مرگ درته راشي. گواکې د څـواک او ثـروت پر آس سپاره، د هر څيز ډېرتر درلودلو پر لور يې په تاخت ځغلوئ.

«كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ.» نه داسې نه ده! دا سمه نه ده! او ډېر ژر به پوه شئ چـې دا ډول بوختيا او دندې د وخت تلف کول ول او ددې ارزښت يې نه درلود چـې خپل عمر او شتون د هغه په لار کې مصرف کړئ. انسـان بـه يـوه ورځ پـوه شي چې ټولې شپېنې ورځينې هڅې يې ددې لپاره دي چـې خپـل بـانکي شـته، پيسې او پانگه او ثروت تل پورته يوسي، په ټوليزه توگه به پر دې وپوهېږي چې زيات غوښتنې او اوچت انگېرنې او پلټنې يې تر کومه بريده د هغه پـه زيـان او تاوان ختم شوي دي.

مقصد دادی چې اصولاً په مادياتو کې ډېرغوښتنه او ټولغوښتنه له نـورو سره پـه سيالۍ او رقابت کې د دنيا طبيعت دی؛ د دنيا د کار او چار اقتضا لـه نـورو سره سيالي او رقابت، له يو بله تروړل، د نورو غولول او پورتـه تلـل دي. لـه تکـاثر څخه مقصد دا ډول ډېر غوښتنه ده.

او بل هم «کوثر» دی. «کوثر» داسې يو څيز دی چې په ذاتي توگه خوتېدونکی او څوښانه دی. داسې يوه چينه ده چې له يو مخې له خپله ځانه خـوټېږي؛ نـه له کوم بل ځايه، له خپله دننه خوټيږي. نو دا «کوثر» لکه د څوښانې چينـې پـه څېر دی، او هغه «تکاثر»، د مصرف حرص دی او له يو مخې د شـتو او ماديـاتو لاسته راوړل او مصرفول دي.

بُت نمانځنې لکه د پخوا په څېر په اوسنۍ نړۍ کې هم رواج او رونق لري، خو يو بل بُت، يو نوی بُت، د بشر د مخکينيو بُتانو ځای ناستی شوی دی او هغـه د مصـرف بُت دی. تل پيرودنه او مصرف! تل مصرف ته د اړتيا او نيـاز د احسـاس ارضا کول. په «تکاثر» کې، تل زياتوالی له بهر څخه دی چې سړی تـل غـواړي

ډېر ثروت او ډېره شتمني راټوله کړي. نو د «کوثر» او «تکاثر» هر دواړه نومونه، په داسې حال کې چې له يوې ريښې دي، دوه ډوله زياتوالی څرګندوي. يو له بيرونه جذبول او ځانته ځکَونه ده، او بل له دننه خوټېدل او بهر ته دلول او ځکَونه دي. د مولوي په وينا:

[آب کم جو تشنگی آور به‌دست، تا بجوشد آبت از بالا و پست]

«آب کم جو» يعنې په مال او شتمنيو، او د ژوند د وسايلو په ډېرولو او مصرف پسې ډېر مه ځه، که ته دا تنده، اړتيا او ورتيا ومومې، اوبه به ستا له دننه، ستا له وجوده سر تر پايه وخوټېږي. د انسان وده او رشد، کثرت او کوثر دننني او بنسټيز دی. وايي: «رَو بدين بالا و پستی‌ها بدو»، هڅه وکړه او په لټه کې اوسه «تا شوی تشنه و حرارت را گرو». چې تږی شې او حرارت زيرمه کړې. ورپسې وايي: «زرع جان را کش جواهر مضمرست». د ځان په کښت او ځمکه او پټې کې  چې د انسان د وجود، پټ جوهرونه دي. «ابر رحمت پر ز آب کوثرست». وايي له يو لور، ستا په وجود کې د طلا او جواهرو معدن دی، او له بل لورې د پالونکي ښتن آسمان «پر ز آب کوثر ست». نو، که ته تنده لاسته راوړې د کوثر د رحمت باران به هم پر تا اورېږي.

د «کوثر» سورة په پيل کې پيغمبر ته فرمايي: «إِنَّـا أَعْطَيـنَـاكَ الْكَـوْثَرَ.» موږ تاته «کوثر» عطا کړ. دلته د «إِنَّ» تأکيد راغلی دی: يعنې موږ قطعاً او مسلماً او کورټ دا کوثر تاته دربښلی دی، ځکه چې دلته يې د أَعْطَيـنَـاكَ لفظ کارولی نه د «آتَيْناک»، همدا لامل دی چې وايو: خدای تعالی هاغه حضرت[(ص)] ته «کوثر» بښلی او اعطاء کړی دی. إِنَّا، چې د جمع متکلم په توګه راغلی دی په دې اړه مو په ځلونو ويلي دي چې هرکله چې خدای تعالی په قرآن کريم کې د متکلم مع الغير له ضمير سره خبره کوي، د هستی ټول نظام په نظر کې لري؛ يعنې پربنتې، طبيعت، ځواکونه، قوانين - دوی ټول د هغه له فرمان سره په مقدر شوي نظام کې د دغه کار په سر ته رسولو کې لاس لري. په بله وينا، الهي

رحمت د پیغمبر د هاند او هڅو له لامله، د عالم په نظام او د غیبي امدادونو په وړانګو کې، د «کوثر» د پیدایښت لامل شوی دی.

د مسئلې د توضیح لپاره یو ساده مثال وړاندې کوو: کله چې د ښوونځي مدیر وايي: «موږ» سږکال د پوهنتون په کانکور کې سل کسان قبول شوي ورکړي، ټول پوهېږي چې دا یوازې مدیر نه دی چې په اصطلاح د ډلې ټپلې او اړیکو له لامله یې دا بریالیتوب په برخه شوی دی، سره ددې چې ښوونځی یې پخپله تأسیس کړی هم وي او معلمین یې هم استخدام کړي وي، د زده کړیالو خپلو هڅو او ښوونکو هم په دې بریالیتوب کې نقش درلودلی دی. نو، که وايي «موږ» سل کسان قبول شوي ورکړي، ټول پوهیږي چې دا «موږ» یعنې د مدرسې سیستم، چې البته د مدیر نقش هم په هغه کې په نظر کې نیول شوی دی.

په «کوثر» کې هم، یو داسې مطلب بیانیږي. پخپله پیغمبر^(ص) د کوثر په پیدایښت کې ګډون او نقش درلودلی او د هغه له اصلي لاملونو څخه ګڼل کیږي، او که نه، کوثر به تحقق نه وی موندلی. کوثر داسې څیز نه دی چې د پیغمبر له وجوده بهر وي. که له دې پرته وای، توپیر یې نه کاوه چې کوثر هغه ته یا بل کوم کس ته ورکړي؛ یعنې پیغمبر استثناء نه وو چې متعال خدای مثلاً د هغه حضرت شکل یې خوښ شوی وي، بلکې فاعلیت له قابلیت سره نتیجه ورکوي. فاعل شته، خو قابل یعنې قبول کوونکی هم شرط دی. یو ظرف باید شتون ولري چې یو څیز پکې واچول شي. باران اوري، خو که یوه وادي نه وي چې د باران اوبه سیندونو ته جاري کړي، د باران اوبه به بې ځایه لاړې شي. د «رعد» په سورة کې الله تعالی فرمايي: موږ له آسمانه اوبه نازلوو، خو هره یوه دره د خپل ظرفیت په کچه هغه جاري کوي: «أَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا.» [رعد ۱۷(۱۳:۱۷)].

نو، د پیغمبر وجودي وړتیا او ظرف تر هاغه بریده ورسېد او تر هغې کچې یې وسعت او پراختیا وموندله چې ویې کولی شو پر یوه ځوښانه او خوټېدونکي

چینه بدله شي او البته دا شوني نه وه مګر په الهي نظام او د خدای تعالی په مشیّت کې او دهغه په مرستو او امدادونو کې؛ یعنې په هاغه نظام او چوکاټ کې چې پالونکي څښتن ګومارلی دی. د هستی په مدرسه او چاپېریال کې دی، چې یو انسان کوثر شوی دی.

خو کوثر څه شیز دی؟ ټول بحث همدا د کوثر په څه شیزوالي کې دی خدای تعالی هغه ته څه شیز وربښلی دی چې کوثر نومول شوی؟ په دې سورة کې کومه توضیح د هغه په اړه نه ده ورکول شوې. یوازې فرمایي چې موږ تاته کوثر درکړی دی. په منلې توګه په «کوثر» کې ډېر خیر، کثیر خیر نغښتی دی. خو آیا له «کوثر» څخه کثیر خیر مقصد دی، یا هاغه شیز چې د کثیر خیر منشأ او سرچینه ده؟ څرګنده ده چې دویمه خبره ده. البته د کثیر خیر منشأ هم کثیر خیر دی. یعنې موږ تاته داسې شیز درکړی دی چې له هغه کثیر خیر ولاړېږي، تاته مو د خیر داسې سرچینه درکړې ده چې هیڅکله به قطع نشي، هیڅکله به پای ته ونرسېږي، داسې یوه سرچینه چې د تل لپاره ځوښانه ده، د تل لپاره خوتېږي. لکه څنګه چې مو وویل قرآن په دې اړه هیڅ تفسیر نه ورکوي چې دا زیاتېدونکي چینه څه شیز دی.

**الکوثر**، چون د سرچینې او ځوښانه او زیاتېدونکي مادې په معنا دی او د آیت په ظاهر کې د تحدید او بریدونو لپاره یې کومه قرینه او پلامه نشته، ټول هاغه شیزونه رانغاړي چې د مخاطب له اوچت او عزیز روح څخه یې سرچینه نیولې. او بنایي د عهد او خطاب په قرینه او پلامه، همهاغه د وحی او نبوت له فیضه ډکه سرچینه وي چې نور ټول خیرونه د هغه له اغیزو او نښو څخه دي. او هغه څه چې مفسرینو ذکر کړي دي ــ له قرآن، حکمت او علم، د زوزات زیاتوالی، د امت علماء، د پلیونانو زیاتوالی ... ــ همدا د وحی او نبوت د موروودونو، آثارو او اغېزو بیان دی چې مخکې له دې هاغه حضرت ته ورکړل شوی او د **اعطینا** ماضي فعل هم پر همدې دلالت لري، قرآن د وحی له همدې کوثر او د هغه د

وړتیا له آثارو او اغیزو څخه دی او پخپله داسې یو کوثر دی چې له آیتونو څخه یې علم او معرفت خوټېږي او هر طالب د هغه د ظرفیت او وړتیا په کچه خړوبوي، او د آیتونو تلاوت یې ذهنونه او نفسونه له باطلو وهمونو او له تیتو او ناوړو عادتونو او اخلاقو پاکوي او د فطرتونو له دننه د حکمت سرچینې جاري کوي. «... يَتْلُو عَلَيهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ...» [جمعه۲(٦٢:٢)]. [...چې آیتونه یې هغوی ته تلاوت کړي او هغوی (د جهل او شرك له ککړتیا او پوړتیا) پاك کړي او هغوی ته کتاب او حکمت ورزده کړي...]. د ا کتاب او حکمت چې آیت ورته نغوته لري او د قرآن له سرچینې بناء کېږي، پخپله یوه ځوښانه سرچینه او کثیر خیر دی چې د ژوندانه ټولو اړخونو ته جاري کېږي؛ «... وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيرًا كَثِيرًا...» [بقره۲٦٩(۲:۲٦٩)]. [... او همدا چې چا ته حکمت ورکړل شي، په تحقیق (هغه ته) ډېر خیر ورکول شوی ...].

هغه کتاب او حکمت چې قرآن یې له تزکیې وروسته ورکوي، د جهان پیل او پای ته، او د انسان د سلوك طریقې او د پنځګرنې رازونو او ریښو ته او د احکامو اصولو ته د فطري عقل سترګې پرانیزي. قرآن د تعلیم له دې طریقې سره د تحقیق، څېړنې او موندنې حس د مستعدو او وړ خلکو په ذهنونو کې ویښ کړ او د هغوی وچ او جامد علمونه او عقیدې یې ماتې او له منځه یوړلې، او د سپېڅلي ایمان او معارف سرچینې ته یې د هغوی هدایت او لارښوونه وکړه او په دې ذهنونو کې یې سرچینې پرانیستې. ددې کوثر بل څرګندوی او بشپړ انځور، د هاغه حضرت وینا او چلن او روش او اخلاق ول چې د تل لپاره د ایمان او معرفت او حکمت او د ژوند او ابدیت طریقه او لار ده. او همدا کوثر، د توارث او وینې او د ځانګړې روزنې له لارې د هغه په کورنۍ او سپېڅلي زوزات کې جریان ومومند او د هغه د نسل د غځېدنې او د خلکو د هدایت لامل شو. لکه څنګه چې د هغه د یوازینۍ سپېڅلې لور څخه یې ایماندار او غیرتمن

زوزات وپنځېد او د خلکو د هدايت او ژغورنې لپاره خپاره او زيات شول او پـه هره زمانه کې د خلکو د فيض او هدايت سرچينه وګرځېدل. او همدا راز هر يو له اسلامي علماو او د حضرت رسول پليونان چې د قرآن د معـارف وارثـين او د محمد(ص) له روح او د هغه له وحی سره تـړلي دي د هاغـه حضــرت روحـي زوزات دی او هر يو د کوثر د نهر څانګې دي او له کوثره يې سرچينه نېولې ده.

لکه څنګه چې پوهېږو ددې سورت نزول په داسې يو مهال کې شـوی چـې لـه ګوتو په شمېر څو کسانو پرته د مکې خلـک خـو لا څـه چـې د عربـو پـه ټولـه ټاپووزمه کې څوک د حضرت رسول اکرم(ص) د خبرو اورېدو ته چمتو نـه ول او د خلکو په نظر کې په ژوندانه کې خو له ناکاميو سره مخامخ وو بلکې ويـل يـې تر وفات وروسته به يې هم څوک د نوم اخېستو نه وي، په دې حالت کله چـې د الله له لور ورته وويل شول چې تاته مو کوثر عطا کړی له دې څخه دا نتيجـه اخېستل کېږي چې ستا مخالفين انګيري ستا هر څه برباد دي ځکه کوم نعمتونه چې له بعثت مخکې ستا په لاسرسی کې ول هغه هم له تا وتـروړل شـول، خـو حقيقت دادی چې موږ ته له بې بريده خير او بېشمېره نعمتونو سره نازولی يې.

مفسرانو د کوثر په معنا کې «۲۶» قولونه راوړي دي. له هغې جملې يې ويلي دي مطلب يې د پليونانو او پيروانو کثرت او زياتوالی دی. يعنې که د بعثت په پيـل کې، اسلام له دوو دريو تنو، لکه حضـرت خديجه، حضـرت عـلي او حضــرت ابوبکر سره پيل شو او وروسته شپيته اويا کسانو ته ورسـېد، چـې لـه مکـې يـې مدينې ته مهاجرت وکړ. ننه، اوس د مسلمانانو شمېر څومره زيات شوی دی. کـه د تاريخ په اوږدو کې د مسلمانانو شمېرنه واخلئ، په لـومړني دوران کـې، مـثلاً فرض کړئ شل زره کسان ول، اټکل شوی دی چې په ۲۰۵۵ کال کې، د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې، د ځمکې د کري د زيږېدلو کسانو له دوو څخه يو به يې مسلمان وي؛ يعنې له زيږد او ولد له مخې، چې همداسې مخ پـه زياتېـدو دی. له ۸۹ تر ۹۹ لسيزه کې په امريکا کـې د مسلـمانانو تـولنې ۲۵ پـه سـلو کـې وده

درلودلې ده اوس له اوو ميليونو څخه زيات شمېر مسلمانان په امريکا کې ژوند کوي. نو پر دې بنا ځينو ويلي چې کوثر همدا د پيغمبر (ص) د پلرونو او پيروانو زياتوالی او ډېربنت دی.

د يو بل قول پر بنا، «کوثر» د پيغمبر نوم او آوازه ده چې د عالم په څنډو او ليکو کې يې انګازه اچولې ده. مولوي په دې اړه وينا لري چې وايي:

مصطفی را وعده‌کرد الطاف حق — گر بميری تو نميرد اين سبق
من کتاب و معجزه‌ات را رافعم — بيش و کم‌کن را ز قرآن مانعم
کس نتاند بيش و کم کردن درو — تو به از من حافظی ديگر مجو
رونقت را روز روزافزون کنم — نام تو بر زرّ و بر نقره زنم

مصطفی ته د حق په لطف ژمنه ورکړل شوې ده چې که ته له دنيا رحلت هم وکړې ستا دا سبق به نه مړ کېږي. زه ستا د کتاب او معجزې اوچتوونکی يم، په قرآن کې له زياتونې او کمونې څخه مخنيوی کوم. څوک يې زياتونه او کمونه نشي کولی، ته له ما څخه بهتر ساتونکی مه لټوه. رونق دې ورځ تر بلې زياتوم، ستا نوم به پر طلا او نقره ليکم.
په هر حال لکه څنګه چې مو وويل، ځينو کوثر په همدې د نوم او آوازې او شهرت په معنا اخيستی دی.

ځينو نورو ويلي چې له کوثر څخه مطلب قرآن او قرآني ښوونې دي چې هغې ته د مخ کوونکو شمېر بې بريده دی. لکه څنګه چې دا (۱۴) پېړۍ کېږي پرله پسې هغه لولي او له دې وروسته به بيا هم ولوستل شي. په دنيا کې هيڅ کتاب د لوستونکو د شمېر له نظره له قرآن سره د پرتلې وړ نه دی. البته اوس به له دې تېر شو چې موږ تش هغه لولو او عمل پرې نه کوو، خو نوم خو يې «قرآن» دی، يعنې «د لوستلو وړ». قرآن مصدر دی له «قرء» څخه، يعنې لوستل. نبه دا هم البته ستر او مهم کثرت دی.

ځينو نورو ويلي چې کوثر په جنت کې يوه چينه ده. موږ تاته کوثر درکړ، يعنې په جنت کې مو يوه چينه تاته در عطا کړې ده. ځينو هم هغه نسل او زوزات معنا کړې دی. يعنې ستا نسل چې سادات دي، ډېر زيات به شي.

انگليسي ژباړنو ته هم که پاملرنه وشي، لېدل کېږي چې ځينو ژباړونکو ددې په ترجمه کې ليکلي: «Band of Good» يعنې په واقعيت کې د هر ښه څيز زياتوالي او ډېربښت، يا يې ليکلي دي: ډېره ځلانده بريا او ستره کاميابي. يا په جنت کې يوه چينه. د يوسف علي په ترجمه کې، چې تر نورو ترجمو ښخه يې زيات هرکلی شوی دی، بيا هم «چينه» د هغه معادل راغلې ده: «... موږ تاته د برکت او ډېربښت چينه درکړې ده». د «کوثر» سره برابر يې راوړي دي: «... يعنې په جنت کې له الهي لطفه يوه بې بريده او نامحدوده چينه». د اِروينگ په ترجمه کې يې هم ويلي چې کوثر يوه افسانه اي چينه ده: «... دا چينه د هاغو مؤمنانو لپاره چې له خدايه ډارونکي دي، جاري ده. داسې يوه چينه چې خدای تعالی هغې ته کرامت ورکړی او له شاتو خوږه او له شېدو سپينه ده». او د هېښتيا وړ خبره ده چې په ډېريو انگليسي ترجمو کې يې «کوثر» په همدې د چينې په معنا اخيستی دی. بله ترجمه هم چې د کينگ په کتابتون کې ده، بيا يې هم همدا معادل راوړی دی: «River in Paradise »

که د سورة د نزول د زماني تاريخي شاليد ته پاملرنه وکړو او همدا راز له دې مخکې مو د ضحی او انشراح په سورتونو کې ليدلي دي چې د نبوت په پليز پړاو کې چې حضرت رسول الله^(ص)^ له ډېرو سختو ستونزو ښخه تېريده، د هغه ټول قام او ترورانو د هغه دښمنۍ ته ملې تړلې وې. د ستونزو او کړاوونو يو غر يې مخې ته ولاړ وو، په وړاندې يې د مخالفتونو يو ستر توپان هرې خوا ته الوتی وو، او د حضور ^(ص)^ د گوتو په شمېر خو ملگري ول چې تر لېرې لېرې هم د هغوی په شتون کې د برياليتوب نښې نه ښکارېدلې په دې پړاو کې الله تعالی ورته د ډاډ او ملاتړ لپاره زيات شمېر آيتونه نازل کړل د بېلگې په توگه د

ضحی په سورة کې ورته فرمايي: «وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَكَ مِنَ الْأُولَى. وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى.» [ضحی۴(۹۳:۴) او۵] او په رښتينې توګه ستا لپاره وروسته پړاو [يعنې هر وروسته پړاو] له مخکې پړاوه بهتر دی او ډېر ژر به ستا پالونکی څښتن تاته هاغه څه درکړي چې ته به پرې خوښ او راضي اوسې. ـ همدا راز په سورة الشرح کې فرمايي: « وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ» او مونږ ستا اوازه اوچته کړه . ـــ يعنې دښمن ستا بده ستاينه کوي تا پسې بد تبليغات کوي خو مونږ له دې سره سره ستا د نوم د روښانه کولو او تاته د نوماليتوب د عطا کولو سامان برابر کړی دی او «فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا. إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا» نو حقيقت دادی چې له تنګسی سره پراختيا هم شته، يقيناً له تنګسې سره پراختيا هم شته. يعنې له اوسنيو تنګسو او د حالاتو له سختيو مه ناخوالی کېږه، ډېر ژر دا د سختيو او مصيبتونو پړاو پای ته رسېدونکی دی او د بريا او آسانتيا پړاو راتلونکی دی. [الشرح ۴ (۹۴:۴) تر ٦]

په داسې يو حالت کې يې د کوثر سورة نازل کړ. په دې توسه الله تعالی خپل استازي او پيغمبر^(ص) ته هم تسليت او ډاډګيرنه ورکړه او هم يې د هغه د مخالفينو او دښمنانو د بربادۍ او نيمګړيتوب وړاندوينه وکړه. د قريشو کفارو به ويل چې محمد^(ص) له خپل ټول قامه پرې شوی دی او د هغه حيثيت د يوه بېکس او بې يار او مددګاره انسان په څېر شوی دی. د عکرمه روايت دی چې کله حضرت رسول^(ص) په پيغمبرۍ مبعوث شو او هغه حضرت، اسلام ته د قريشو ديني بلنه پيل کړه د قريشو خلکو به ويل: «[بَتِرِ محمدٌ منّا] يعنې محمد^(ص) له خپله قومه پرې شو داسې شوی دی لکه ونه چې له بېخه پرې شي څه موده وروسته به هغه وچ شي او په خاورو پورې به ونښلي». همدا راز مولانا مودودي په خپل تفهيم القرآن کې د ابن جرير په حواله ليکي چې محمد بن اسحاق وايي چې «د مکې د سردار عاص بن وائل سهمي په مخکې به چې کله د حضرت رسول الله^(ص) د نوم ذکر کېده، هغه به ويل؛ هغه پرېږدئ، هغه خو يو ابتر (بېخ پرې شوی) سړی دی، د هغه کوم نرينه زوزات نشته، نو چې مړ شي د نوم

اخېستلو څوک به يې هم نه وي»، چې د شَانِئَکَ له جملې څخه مقصد همدا عاص بن وائل دی. همدا راز ډېر روايتونه شته چې د مشرکينو ډېريو مشرانو به دا ډول خبرې کولې؛ د ابن عباس(رض) روايت دی چې يو ځل کعب بن اشرف [دمدينې د يهوديانو سردار] مکې ته راغی نو د قريشو مشرانو هغه ته وويل «الا ترى الى هذا الصبّى المنبتر من قومهِ يزعم انه خير منّا و نحن اهل الحجيج و اهل السدانة و اهل السقاية» بس دې ته خو وګوره، دا هلك چې له خپله قومه پرې شوی دی او انګيري چې دا تر موږ بهتر دی، په داسې حال کې چې موږ د حج او سدانت [د کعبې د پردې پوښنې، دروازه وانۍ او د خلکو د هرکلي د مسئوليت] او سقايت [خلکوته د اوبو رسونې] منتظمين يو.

د همدغې پېښې پورې اړوند د عکرمه روايت دی چې قريشو د حضرت رسول اکرم لپاره د «الصُّنْبورُ الْمُنْبَترِ من قومهِ» الفاظ هم کارولي ول [يعنې کمزوری، بې يار او مددګاره او بې اولاده سړی چې له خپله قومه پرې شوی دی]. د ابن سعد روايت دی چې حضرت عبدالله بن عباس(رض) فرمايلي دي چې د رسول الله(ص) تر ټولو مشر زوی قاسم(رض) وو په هغه پسې يې لونه حضرت زينب(رض)، رُقيه(رض) او ام کلثوم(رض) ولې، او تر دوی کوچنی يې زوی حضرت عبدالله(رض) وو او په دوی پسې يې لور حضرت فاطمه(رض) وه. په دوی کې حضرت قاسم(رض) تر ټولو ړومبی په کوچنيوالي کې له دنيا ولاړ، ورپسې حضرت عبدالله(رض) چې د بعثت په کال کې زېږېدلی وو او له همدې لامله د طيب او طاهر په نومونه ملقب وو، هم په ډېر کوچنيوالي کې وفات شو. پر همدې عاص بن وائل وويل: «د هغه نسل ختم شو هغه اوس ابتر دی» [يعنې د هغه جرړې غوڅې شوې دي] په ځينو روايتونو کې دا هم راغلي چې عاص وويل: «ان محمدًا ابتر لا ابن له يقومُ مقامه بعده فاذا مات انقطع ذکره و استر حتم منه». محمد ابتر دی، د هغه کوم زوی نشته چې د هغه ځای ناستی شي، نو کله چې هغه مړ شي د هغه نوم به له دنيا پاک شي او تاسو به هم ترې بېغمه شئ. په روايتونو کې دا هم راغلي

چې د عبدالله^(رض)^ پر وفات همدې ته ورته خبرې ابوجهل هم کړې وې. له شمر بن عطيه څخه د ابن ابی حاتم روايت دی چې د رسول اکرم پر دې غم د همداسې ټيټوالي، ناوړتوب او خوښيو څرګندونه عقبه ابن ابی معيط هم کړې وه. عطاء وايي چې کله د حضرت رسول اکرم^(ص)^ دوهم زوی وفات شو نو د حضور^(ص)^ خپل تره ابو لهب[چې کور يې کټ مټ د پيغمبر^(ص)^ له کور سره نښتی وو] په منډه منډه مشرکينو ته ورغی او هغوی ته يې دا زېری ورکړ چې: «بَترِ مُحَمّدٌ اللّيْلة» [نن شپه محمد بې زويه شو يا د هغه جرړې غوڅې شوې].

[البته د پيغمبر^(ص)^ يو بل زوی هم وو چې «ابراهيم» نومېده او له «ماريه قبطيه» څخه وو چې ډېر وروسته د هجرت په اتم کال په «مدينه» کې پيدا شوی، او هغه هم په کوچنيوالي کې مخکې له دې چې دوه کلنی ته ورسېږي وفات شوی دی.]

دا ول هاغه ډېر زيات زړه ماتوونکې حالتونه په کوم کې چې د کوثر سورة نازل شوی دی؛ قريش د همدې لپاره د حضرت رسول^(ص)^ سره ناسازه ول چې هغه مبارک^(ص)^ يوازې د الله بنده ګي او عبادت کاوه او د هغوی شرک يې په څرګنده توګه رد کړی وو؛ له همدې لامله يې قوم ترې هاغه مقام او منزلت چې له نبوت مخکې ورته د خپل ولس منځ کې حاصل وو، وتروړه او ګواکې هغه يې له خپلو تربورانو او ولس څخه پرې کړ او ايسته وغورځول شو. او د هغه څو ګوتو په شمېر ملګرې هم د ټولنې بېوزلي او بې ياره او مددګاره وګړي ول او د ژوندې پاتې کېدو لپاره يې په سختيو او ستونزو کې غورځې پرځې کولې .

پر دې سربېره يو زوی پسې د بل زوی د وفات غمونه پرې راغلل. په دې موقع کې خپلوانو، تربورانو، د قوم او قبيلې وګړو، د چم ګاونډ خلکو د خواخوږۍ او ډاډګېرنې پر ځای د خوښيو څرګندونې کولې او داسې خبرې يې جوړولې چې د يوه داسې شريف انسان لپاره چې تل يې خپل لا څه چې تر پرديو پورې يې له ټولو سره تل نيک سلوک کړی وو، زړه ماتوونکې ول. نو الله تعالی ورته په دې تر ټولو لنډ سورت کې په يوه جمله کې هغه ښه زيری ورکړ چې په نړۍ

کې هيڅا ته نه دی ورکړل شوی. او ورسره ورسره يې دا فيصله هم ورته واورولـه چې ستا د مخالفينو جرړې به غوڅې کړلې شي.

اغيز د برلاسۍ دي دی تر حشره متصل
دښمن دی ستا مختوری، بېحاصله او خجل

په واقعيت کې مسئله داده چې آيا خدای تعالی پيغمبر ته په جنت کـې د يـوې چينې وعده کړې ده!، يـوه ناپېژنـدلې او ناټـاکلې چينـه؟ سره لـه دې چـې د «کوثر» الف او لام [الکوثر] هغه معرفه کړې دی. خو که مقصد يې نامعلومه چينه وای، د نکره حالت به يې پيدا کړی وای او ويل يـې «کـوثر» يـوه چينـه. لکـه څنګه چې پوهېږو چې ژباړونکو او مفسرينو مختلفـې ځـانګړنې د کـوثر لپـاره تعريف کړې دي نو څه بايد وکړو او کومه معنا بايد د هغه لپاره غوره کړو؟

دلته يوې خبرې ته نغوته کول اړين ګڼم هغه دا چې ښاغلي حکمتيار پـه خپـل [د قرآن پلوشې] کې ددې سورت د تشريح په ترڅ کې د روايتونو د ردولـو پـه بهير کې دعوه کړې او ويلي يې دي: «....متأسفانه ځينـو پـه دې آيـت کـې د مقطوع النسل او بې اولادی په معنا نيولی، حال دا چې دا معنـا د پيغمـبر عليـه السلام د دښمنانو په اړه صدق نه کوي، ځکه چې دوی بې اولاده نه ول، ځنګـه به قرآن داسې څه وايي چې مصداق نه لري او د واقع خلاف وي، دا تعبير غلط او بې بنسټه دی.....د لومړي روايت په اړه بايد ووايـو چـې دا سـوره د پيغمـبر عليه السلام د ژوند له وفات ډېر کلونه وروسته نازله شـوې، د دوی د وفـات پـه وخت کې ابولهب نه يوازې له پيغمبر عليه السلام سره هـيڅ اخـتلاف نـه درلـود ......کله چې ما ددې مختصرې سورې په اړه تحقيق کاوو.......».

مورږ وايو چې د ښاغلي حکمتيار دا تحقيق دقيق نه دی او د هغه خالي انګېرنـه ګڼل کېږي؛ ځکه چې ددې سورة نـزول د پيغمـبر(ص) د دوهـم زوی عبـدالله ـ [چې په طاهر او طيّب ملقب وو] ـ تر وفات وروسـته شـوی دی او مـوږ ويلـې

چې؛ د عبدالله زېږد د بعثت په کال کې شوی او تر بعثت وروسته وفات شوی دی او دا هاغه مهال دی چې حضرت رسول اکرم(ص) ښکاره دعوت پيل کړی وو او توحيد ته يې خلك بلل، او ابولهب خو لا څه چې ټول مشرکين يې دښمنان ول؛ موږ په دې اړه د سورة د تشريح په بهير کې توضيح ورکړې ده.

که پاملرنه وکړو د سورة ورپسې برخې توضيح ورکړې ده چې «کوثر» څه څيز دی. فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ. دا آيت د مخکيني آيت سره په تفريع او اړوندتيا د ډېريو مفسرينو په وينا: د کوثر د اعطاء په مقابل کې، د نمانځه په توسه شکر کولو ته امر دی، چې په دې ترځ کې په زړه او ژبه او لاسونو د شکر تضمين دی. او څرنګه چې د «فصلّ» له امر څخه مخکې نمونځ فرض او واجب وو، دا امر بايد يو ټينګار وي او يا د «لربك» په قرينه، پالونکي ښتن ته د ډېر نمونځ او هغه ته د ځانګړني او اخلاص تنبيه وي نه هاغه ډول نمونځ چې د ريا او ځانښودني په توګه وي او مانعين او ماعون يې سر ته رسوي. او همدا راز د «انحر» له امر څخه مقصد د اوښ د قربانۍ منل او کول دي چې د عربو تر ټولو ارزښتناك مال وو، په خالصانه توګه خپل پالونکي ښتن ته – نه د بتانو په لار کې په رياکارۍ او ځانښودني چې مشرکين يې سر ته رسوي.

همدا راز د لمانځه سره د قربانۍ ذکر کول پر دې دلالت کوي چې قرباني هم د نمونځ په څېر عبادت دی او يو خدای ته ځانګړې دی او بل چا ته جايز نه دی، پر دې بنا د هاغه چا لپاره چې له سفره راستون شوی وي او يو حيوان د هغه پر وړاندې څملوي او سر تري غوڅوي او وايي د دغې حيوان غوښه هغه مسافر ته نه رسيږي او يوازې په دې کار کې د هغه لپاره درناوی دی چې هغه ته يې ډالۍ کوو دا ټول عملونه او کړنې له قرآن سره مخالف دي څکه چې الله تعالی د حج په سورت کې فرمايي:

«لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوَى مِنْكُمْ ....»[حج ۳۷ (۲۲:۳۷)]

هيڅکله ددغو [قربانيو] غوښه الله ته نه رسيږي او نه د هغوی وينې، بلکې دا

ستاسو تقوا ده چې هغه ته رسېږي [= تاسو الله تـه نـږدې کـوي]…. چـې خلـك همدا درناوی له سفره ستون شوي یا کوم امامزاده یا کوم پیر ته وړاندې کـوي. او حضـرت علي ^(رض)^ وفرمایل: سمعت رسول الله ^(ص)^ یقول: لعـن الله مـن ذبـح لغیرالله، یعنې له حضرت رسول اکرم ^(ص)^ څخه مې واورېدل چې ویې فرمایل: د خدای لعنت دې وي پر هغه چا چې یو حیوان غیر له خدایه د بل چـا پـر نامـه وژني او ذبح کوي.

نو فرمایي: ددې ډېر خیر د شکرانې په مقابل کې چې تاته مو درکړی دی، بایـد یو لړ کارونه وکړې. له هغې جملې دا چې نمونځ اقامه کړې. فَصَـلِّ «ف» یعنـې؛ نو، پر دې بنا. یعنې دا چې کوثر تاته درکړل شو، «فَصَلِّ لِرَبِّكَ.» - «صَـلِّ» یعنـې خدای ته مخه کړه. په پښتو ترجمو کې یې لیکلي چې نمونځ وکړه. ښه، پیغمـبر خو نمونځ کاوه، ددې توصیې تکرار خو کومه معنا نه لري. «صلاة» تـه پـه پښـتو کې «نمونځ» ویل کېږي، خو «صلاة» یعنې خدای تعالی ته مخه کول او له هغـه څخه فرمان وړل دي. «صَلَّی» د «تَوَلَّی» په مقابل کې دی «تَوَلَّی» یعنـې شا یـې کړه، او «صَلَّی» یعنې مخه یې کړه. نو «صلاة» یعنې مخ کړنه. فرمـایي اوس نـو د خدای لور ته پاملرنه وکړه، هغه ته مخه کړه.

ولې؟ ددې لپاره چې هر څوك چې له چا سره نیکي کوي، طبعـاً هاغـه څـوك چې نیکي ورسره شوې ده له ده سره مینه وال کېږي. انسان هیڅکله هاغه چا ته نه شا کوي چې له ده سره یې مینه او ښېګڼه کړې ده. فرمایي مورږ ستا په وجـود کې له فیضـه ډکـه یـوه چینـه ایښـې ده؛ نـو ددې برکـت، ددې خیـر، ددې جوړښت د سرچینې په شکرانه کې، د هغـې مبـدأ پـر لـور چـې تـا تـه یـې دا دربښلې، تل مخه کړه. نه دا چې هغه شکرانې ته اړتیا لـري؛ بلکـې ددې لپـاره چې ستا دا دننۍ خوښ او خوتېدنه وغځېږي او دوام وکړي، نو تل باید هاغـه اساس، اصل او سرچینې ته پاملرنه وکړې. که څوك د لمر له وړانګو تودوخـه او رڼا اخلي، ددغې تودوخې او رڼا د غځونې لپاره باید تـل لمـر تـه مخـه کـړي.

څرنګه چې هغه یوازې له لمره نور او تودوخه اخېستلی شي؛ نو که وغواړي ډېره تودوخه او نورانیت ولري، باید ډېرتر خپل ځان لمر ته مخامخ ونیسي.

وَانْحَرْ. یعنې قرباني وکړه. خو د قربانۍ کولو له فرمان څخه مطلب، دا نه دی چې د ناپوهۍ په حالت کې اوښ یا پسه ووژنه. قرباني کول یعنې له خپله ځانه له خپل وجوده پانګونه وکړه. یو مهال داسې دی چې انسان وچ په وچه تش لاس خدای ته پاملرنه لري او یوازې له هغه سره ذهني اړیکه ټینګوي. په اصطلاح اړیکه یې بې خمیرې یعنې پتیره [فطیره] ده. یعنې ددې فرمان معنا داده چې هغې مبداء ته په مخه کولو کې باید خمیره کېږدې؛ باید پانګه کېږدې؛ باید وخت کېږدې؛ باید پیسې کېږدې، باید ځان کېږدې. بس هر څوک چې هر څه لري او کولی شي. د خدای لور ته تلل په آسانه نه کېږي او ساده نه دی، باید ایثار وکړې او له ځانه تېر شې . تاسو پاملرنه وکړئ چې په قرآن کې، تل «صلاة» او «زکاة» یو له بل سره یو ځای راغلي دي: «وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ» [نور٥٦(٢٤:٥٦)]. یا «الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ» [نمل٣(٢٧:٣)] د لمونځ او زکات فریضه کابو تل له یو بل سره یو ځای ذکر شوي دي. یا صلاة له انفاق سره راغلی دی: «الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ.» [انفال٣(٨:٣)] کېدی نه شي چې سړی خدای وپېژني او بیا هم خسیسوالی څرګند کړي؛ تنګ نظری، بخیل، حریص، ځانغوښتونکی، ټول غوښتونکی او مناع الخیر وي. په اصل کې چا چې خدای وپیژاند، د فیض، برکت، موهبت او ښېنې منبع او سرچینه یې پېژندلې ده؛ پراخ او بې بریده رحمت یې پېژندلی دی. که څوک د خدای لور ته سم تللی وي، دا ډول پېژندنه او شناخت یکې پیدا کېږي. دا څنګه کېدی شي چې انسان له یو چا سره مینه ولري، خو ونغواړي د هغه په خبر واوسي؟ هر څوک چې په ژوند کې پر هر څه عاشق وي، غواړي هغه ته خپل ځان نږدې کړي. که له دې پرته وي عشق یې تشه ادعا ده؛ دا سړی تش پېژند پاڼیز خدای نمانځی دی.

پر دې بنا، فرمايي چې، ای پيغمبره ستا له خير او برکته د ډک وجود شکر، دا دی چې ډېرتر هغې سرچينې ته مخه کړې. وخت ورکول، انفاق کول، ايثار او فداکاري کول او له ځانه تېرېدنه لکه د چينې د خوټېدو په څېر دي. د چينې اقتضاء او غوښتنه داده چې خوټېږي او نورو ته او ټول عالم ته خير او برکت رسوي. نو تل د بې نهايت پر لور مخه کړه، او له هغه ځايه خلکو ته مخه کړه. قرباني کول خلکو ته له قربانۍ سره اړين دي. نو متصلاً بايد له هاغې بې نهايته سرچينې څخه انرژي واخلې او ډک شې چې وکولی شې نور برخمن کړې. ته په واقعيت کې اخېستونکی او رسوونکی يې. «صلاة» او «نحر» يو تر بله متقابله اړيکه لري. د کوثر چينه چې نه وچېږي. چينه بايد و خوټېږي او خوټيږي. له کومه ځايه؟ د ځمکې له دننه. اوبه د ځمکې له دننه اخلي او وچې ځمکې خړوبوي. يا له آسمانه يې اخلي او هغه تږو ته رسوي.

د آيت مضمون ته په پاملرنه، په دې آيت کې د نمونځ او قربانۍ د حکم د وسعت او پراختيا کچه څرګندېدی شي چې مشرکينو د پخپل لاس جوړ شوو معبودانو په عبادت کولو سره د الله د بنده ګۍ تصور تر پښولاندې چيت کړی وو – ورته وايې تاته ددې نمونځ او قربانۍ په توسه دا ثابتول دي چې ستا پر ټول ژوند باندې يوازې د الله تعالی د واکمنۍ برلاسی دی او ستا د جسم او ځان او مال او شتمنيو حقيقي مالك او څښتن الله تعالی دی هغه چې يې هر چېرته غواړي هلته به يې قرباني کوې – د همدې لپاره په قرآن کريم کې د نمونځ او قربانۍ او ژوند او مرګ په يو ځای ذکرولو سره يې دا تصور برېښنده کړی دی. الله تعالی فرمايي:

«قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ.»[انعام١٦٢(٦:١٦٢) او١٦٣] ووايه: زما نمونځ او قرباني او ژوند او مرګ ټول د الله لپاره دي چې پالونکی څښتن د عالميانو دی. چې هيڅ شريک يې نشته او ماته په دې [نګه او خالصې دين پالنې] امر شوی دی او

زه [پخپله په دې شرک ککړ چاپېریال کې] لومړنی تسلیم شوی یم [= هغه څه چې وایم عمل پرې له خپله ځانه پیل کوم].

او حضرت رسول اکرم د ژوند تر پایه د ستونزو له زغملو سره پر دې خبره کلک ولاړ وو او یوه شیبه هم د الله له ذکره او شکره غافل نه وو، کله کله به یې تر دې بریده نمونځ کاوه چې پښې به یې پړسېدلې – چا ترې وپوښتل یا رسول الله تاسو دومره ربړ ولې ګالئ؟ ویې فرمایل: «أَفَلَا أَكُونَ عَبْدًا شَكُورًا» آیا زه د خپل پالونکي څښتن پر دې بې بریده نعمتونو د هغه شکر کوونکی بنده نه اوسم.

«إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ.» إِنَّ او د هُوَ ضمیر، ټینګار په ټینګار کې او ځانګړتیا رسوي. د کوثر پر اعطاء له مؤکد خبر وروسته چې پخپله ډک او زیاتېدونکی او جاري کېدونکی دی. دا آیت د کوثر او د هغه د څرګندوونکي د لنډفکرو دښمنانو ناټیکاووالی اعلاموي چې: په رښتینې توګه، ابتر ستا همدا کینه کښ دښمنان دي، نه ته! د قریشو کفارو او د حضرت رسول اکرم[(ص)] نورو دښمنانو چې خپل ځانونه یې ځواکمن ګڼل او د هغه دعوت او شریعت یې د عربو او د دنیا د ملتونو له عقیدو سره مخالف ګڼل او په دې تمه ول او وړاندوینه به یې کوله چې د هاغه حضرت نوم او بلنه چندان پایښت نه کوي او له منځه ځي.

خو له دې ټولو سره سره، ددې سورة آخري آیت ته له پاملرنې سره کېدی شي د «کوثر» له کلیمې څخه بل برداشت هم وشي؛ «إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ.» په رښتینې توګه ستا دښمن خو پخپله ابتر، بې زوزاته، غوځ نسلی او بې ستې دی. د پیغمبر په اړه به یې ویل چې لړی او نسل یې پرې شوې او ابتر دی. د عربانو لپاره نارینه اولاد ډېر اهمیت درلود. زموږ په زمانه کې هم همدا ډول دی. چون قبیلو به تل یو پر بل یرغل کاوه، او زوی کولی شو د جنګ په دې سختو او ناوړو شرایطو کې وجنګېږي او لور به یې د ځان لپاره سر درد ګڼله، ځکه چې لونه د هغوی ناموس ولې، او شوني وه چې په غنیمت کې ونیول شي او بې پردې شي او هم دا چې د جنګېدلو ځواک یې نه درلود. په قرآن کې په

ځلونو نغوته شوې چې ولې عربانو، د پیرېـو پـه اوږدو کـې، لـور درلـودل پـه ژوندانه کې یو ډول ستونزه او د سر درد ګڼله او د قرآن په تعبیر، ویـل بـه یـې چې: «أَوَمَن يَنَشَّأُ فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيرُ مُبِينٍ.» [زخرف۱(۴۳:۱)] یعنـې هاغه چا چې له «حِلیه» سره او په زینت او ناز کې پالنه موندلې وي او په جنـګ او دشمنۍ کې یې هیڅ کار له لاسه نه کېږي نو په څه درد لګیږي؟ عربانو زیـږه او سخته طبعه درلوده، لطافت او نرموالي یې نه پېژانده؛ اصلاً دې څیزونو ورته اهمیت نه درلود. لور سره یې مینه نه کوله، ځکه چې له طبعې سره یې برابره نـه وه؛ لور د هغوی په درد نه لګېده او ویل یې چې جنګیالۍ نه ده او نشي کـولی مقابله وکړي. او ددې په څېر نور ډېر لاملونه یې له لور سره د مینې نه کولو لپاره درلودل. تر اسلام د مخه ښځه په ارث وړل کېده؛ یعنې کله به چې مېړه له دنیـا ته، ښځه یې آزاده نه وه چې کوم بل خوك میړه کړي، بلکې د مېړه ورور یـا د مېړه پلار ته به په میراث کې پاتې کېده. د میړه د کورنۍ په اختیار کې به وه او هغه به یې هر چا ته چې هغوی غوښته مېړوښه کوله. ارث هم هغوی پورې تـړاو نه موند. نو په دې ډول تولو به ویل چې پیغمبر^(ص)^ مقطوع النسل دی او کار یې پرله پسېتوب نه لري، او له هغه وروسته به په اسلام کې له نوم پرته څه پـاتې نـه وي. ځکه چې، پیغمبر هم زوی نه درلود. ومو ویل چې په مکه کـې دوه ځلـې ورته خدای تعالی زوی ورکړ - قاسم او عبدالله - چې هر دواړه په ډېر وړوکتوب کې له دنیا ولاړل؛ یو په کابو دوه کلنۍ کې او بل په دوه یا درې میاشتینۍ کې. نو له همدې لامله د مکې مشـرکین په دې اند ول چې د محمد^(ص)^ نوم او نښـان به په دنیا کې پاتې نشـي چون نرینه زوزات نه لري د تل لپاره به یې نوم د دنیـا له مخې پاك شي. لیکن الله تعالی خپل استازي ته [رسول اکرم^(ص)^ ته] سربیـره پردې چې د مسلمانانو په بڼه روحاني اولاد ورکړی دی چې په تولـه ځمکه کې د هغه نوم تر قیامته پورې روښانه کوي بلکې یوازې د هغه د یـوې لـور حضـرت فاطمةالزهرا^(ع)^ له نسله یې جسماني اولاد هم ورته عطا کړی دی چې په تولـه دنیا

کې خپاره دي او د وياړ ټوله پانګه يې له حضور(ص) سره د نسبت په تړاو ده، او حضـرت رسول اکرم(ص) د پيغام رَسَول يې د خپل ژوند بنسټيزه دنده ګڼلې ده.

امام فخر رازي په خپل تفسير کې وايي: دا سورت د هاغو کسانو د رد په توګه پر رسول اکرم(ص) نازل شوی دی چې پيغمبر اکرم(ص) تـه يـې د اولاد د نـه شـتون پيغور ورکاوه، پر دې بنا ددې سورت معنا داده چې: خدای تعالی هغه ته داسې نسل ورکوي چې د زمانې په اوږدو کې باقي پاتې کېږي، ووينئ څـومره کسـان يې له اهل بيت څخه شهيدان کړل، له دې سره سره جهان له هغوی ډک دی، دا په داسې حال کې دی چې له «بني اميه» څخه [چې د اسلام دښمنان ول] د ذکر وړ کوم کس په دنيا کې پاتې نه دی، بيا وګوره او فکر وکړه څومره له سترو عالمانو د هغوی په منځ کې دي، لکه : باقر، صادق، رضا او نفس ذکيـه [چې د محمد بن عبدالله لقب وو چې د امام حسن مجتبی(ع) له اولاده وو چـې پـه ۱۴۵ ليږديـز کال کې د منصور دوانقي په لاس شهيد شو].

نوميالی قرآنپوه ښاغلی عبدالعلي بازرګان وايي: له دې ټولو سره سره، پـه عـين حال کې چې کيدی شي دا ټول تفسيرونه سم وګڼو، خـو زمـا لـه ليـده، بايـد مطلب يې د حضرت پيغمبر د لور وجود يعنې حضرت فاطمه(ع) وي او دا معنـا د «کوثر» له کليمې سره ډېره د تطبيق وړ ده. د جاهليت عربـانو چـې ښـځې تـه هيڅ کوم ارزښت نه ورکوه، نشو کولی دا ومني چې د پيغمبر نوم او نسـل بـه د هغه د لُور له لارې وغځېږي. حضـرت فاطمـةالزهرا(ع) د سـاداتو سر لـړی ده. سيادت د پيغمبر د لُور له لارې لېږدول شوی او غځول شوی دی. مطلـب مـې يوازې دا نه دی چې خدای تعالی پيغمبر ته لور ورکـړې ده، چـون پيغمبـر(ص) نورې لونې هم درلودلې دي؛ مطلب دادی چې پـه واقعيـت کـې د حضـرت فاطمې(ع) په عزتمن نسل کې د پيغمبر تعليماتو او ښونو په خالصـه او نګـه توګـه تحقق موندلی دی.

دا نکته هم نه ښايي له ياده يوړل شي چې زموږ په زمانه کې، د يو فرد شخصيت د بې شمېره لاملونو پر بنسټ جوړېږي. هر سړی د خپل ژوندون په موده کې له ډېرو کسانو سره مخامخ کېږي. مثلاً په ښوونځي کې يې ښونکي، په پوهنتون کې استادان. يا هاغه کسان چې له هغه سره ټولګيوال ول، کتابونه يې چې لوستي، فيلمونه يې چې ليدلي، دا ټول هر يو د هغه د شخصيت په ښه نيولو کې نقش پرېږدي. زموږ په دوران کې د کورنۍ نقش د تېر په نسبت ډېر کم رنګه شوی دی، خو په مخکيني دوران کې، تر ټولو مهم نقش کورنۍ لوبوه. وسمهال بېشمېره لاملونه د فرد پر شخصيت اغېز لري. رسنۍ لکه تلويزيون د انسانانو پر شخصيت تأثير لري، يا هاغه اغيز چې مطالعه يې پرې پرېږدي، يا ورځپاڼې او عمومي رسنۍ او همدا راز خواله رسنۍ. تاسو به ليدلي وي چې په يوې کورنۍ کې چې څو ورونه او خويندې وي هريو يې د بيل سياسي يا مذهبي مسلک پيروان وي، وسمهال دا ډېره طبيعي خبره ده. تاسو هرو مرو ليدلي دي چې په ډيريو کورنيو کې دا توپير شتون لري. خو په تيره زمانه کې، کورنيو يووالی درلود او فرد په هغې کې ناشونی او ناځرګند برېښېده. کورنۍ د فرد لپاره هر څه وو. دا تصادفي او نابېره نه ده چې له پيغمبر وروسته، سياسي قدرت ډېر ژر بني مروان او بني اميه ته ورسېد چې مخکې د پيغمبر له سرسختو دښمنانو څخه ول. ټول پوهيږو چې د اسلام په پيل کې، ابوسفيان د پيغمبر ستر دښمن او د هغه د مخالفينو رهبر وو. د هغه زوی معاويه، هم د حضرت علي ستر ترين دښمن وو. د معاويه زوی، يزيد، هم د امام حسين دښمن او قاتل شو. وينو چې، له پيغمبر او د هغه له دين سره د دوی دښمني – هر څومره چې مخکې راځو – زياته شوې ده. خو د پيغمبر کورنۍ د بني هاشم له اړخه، د هاغه بل اړخ پر عکس، چې هرڅومره مخکې راځو، وينو چې هريو د خدای د دين د جنډې اوچتوونکي، لارښوونکي او مخکښان ګڼل کېږي. يعني په هاغه مهال کې چې د تعليم لپاره هيڅ وسيلې شتون نه درلود کورنۍ، افراد جوړول؛

نه ښوونځی وو، نه راډيو تلويزيون، نه کتاب نه مجله، نه ټولنيز مرکزونه، نه هنري او ورزشي کلوپونه، هيڅ څيز. پر دې بنا کورنۍ اساسي او بنسټيز نقش درلود. نو طبيعي ده چې وينو اهل بيت او د رسالت کورنۍ، چې له پيغمبر وروسته د هغوی په سر کې حضرت فاطمه او حضرت علي ول. د قرآن پيغام يې نسل په نسل په بهتره توګه وساته او راتلونکو ته يې ولېږدوه. دلته نه غواړو په اصطلاح په ژنتيکي مسئلو ټينګار وکړو، بلکې دا ويل غواړو چې پيغمبر د عام تبليغ او بلنې سربېره، د خپل اهل بيت له لارې هم د اسلام او قرآن د تعليمونو په ساتنه او غځونه کې هڅه وکړه. د معاويه په زمانه کې وينو چې علي دی چې د قرآني ارزښتونو او د پيغمبر د سنتو پاسوال او لېږدوونکی دی. هغه دی چې د معاويه د کږېدنې او انحراف په مقابل کې ودرېږي. او له هغه وروسته امام حسن دی چې د دين محافظ دی او د خپل نيکه د دين د دښمنانو په توسه وژل کېږي. له هغه وروسته، امام حسين دی چې قيام کوي. له امام حسين وروسته، حضرت زين العابدين دی چې قرآني ښوونې او فرهنګ د توحيدي دعاګانو په قالب کې ساتي. او له دين څخه دا پاسوالي او دفاع همدا راز دوام مومي، د امام باقر او امام صادق تر دورانه له پراخ علمي نهضت سره چې رامنځته يې کړ، د لوېديځ پالنې او فکري التقاط پر وړاندې چې د يوناني فلسفي کتابونو د ژباړنو له سرچينو اولارو اسلامي نړۍ ته وارد شوي ول، ودرېدل او له خپل ټول ځواک سره يې د اسلام او قرآن له کلا او چاپيرياله ساتنه او محافظت وکړ.

پر دې بنا، پرته له دې چې تعصب پالنه څرګنده کړو، واقعيت دا دی چې په ډېری توګه د مسئوليت دا بار د رسالت د کورنۍ پر غاړه وو چې قرآن او د پيغمبر سنت وساتل شول. کافي او بسيا ده پاملرنه وکړئ چې د بني اميه د څه باندې اتيا کاله حکومت په دوران کې، يعنې د حضرت علي او امام حسن له شهادت وروسته، چې ځواک په بشپړه توګه د معاويه په لاس کې پرېوت او بني

مروان او له هغه وروسته بنی اميه څواك ته ورسېدل، په دې موده کې، دوی چې د پيغمبر د ځايناستی مدعيان ول هيڅ يو يې هم ابداً د دين کومه دغدغه نه درلوده، د اسلام او قرآن کومه دغدغه يې نـه درلـوده. دا د اسـلامي ټـولنې واکمنان هماغه کسان ول چې تر پرونه پورې د اسلام او پيغمبر سترترين او وينې زبېښونکي دښمنان ګڼل کېدل؛ خو وروسته د اسلام په رنګ او دهغـه تـر چـتر لاندې ننوتل او اسلامي ماسك يې پر خپلو مخونو راوکېښ.

وروسته له هغې هم چې ټولنه بدله شوه او حکومت د بني عبـاس پـه لاس کـې ولوېد او څو پيړۍ هغوی د څواك پر ګدۍ ډېره لکولې وه چـې لـه دې ټولـو سره سره د هغوی ظلمونو، جنايتونو او پساتونو د بني اميه مخونه سپين کړل. له دوی هيڅ يو هم په دين پسې نه ول. نو، په ښـه توګـه څرګنـده ده چـې کـوم کسانو له پيغمبر وروسته د هغه دين وساته. يعنې د ضرورت د حکم له مخې بايـد دا نتيجه واخېستل شي چې د پيغمبر کورنۍ او اهـل بيـت د دينـي ارزښـتونو بهترين لېږدوونکي شول او ويې کولی شو هغه، ورپسې نسلونو ته ولېږدوي.

نو، دا چې وايي: إِنَّا أَعْطَينَاكَ الْكَوْثَر، يعنې دا د علم او حکمت چينه، د قرآن د حقيقتونو چينه، د نبوت د کورنۍ د برکتناك او له فيضه ډك وجود په لوښي او ظرف کې او د داسې انسانانو په همت وساتل شو او ادامه يې ومونده. د «مـريم» په سورة کې، د حضرت زکريا په دعا کې راغلي دي چې عرض کوي خدايـه زه زوړ شوی يم او مېرمن مې شنډه ده او زه په تشويش کې يم چې له ما وروسته به ستا د نمانځنې آيين څوك سر ته رسوي: «وَ إِنِّی خِفْـتُ الْمَـوالِيَ مِـنْ وَرائـی وَ کانَتِ امْرَأَتی عاقِراً فَهَبْ لی مِنْ لَدُنْكَ وَلِيا.» [مريم٥ (۱۹:۵)]. ځکه چې د زکريا وريرونو دې ته سترګې نيولې وې چې د هغه له مړينـې وروسـته، چـې د معبـد رئيس او د خپلې زمانې تر ټولو ستر روحاني شخصيت وو، د هغه ځای ونيسي او څواك قبضه کړي. وايي: خدايه له خپل لوري ماته ولي عطـاء کـړه. يعنـې يـو زوی راته هبه کړه چې له ما وروسته زما د معنوي ميراث وړونکی اوسي. زکريا له

خدايه زوی د زوی په عنوان نه غوښته؛ هغه ددې لپاره زوی غوښته چې: «يرِثُنِي وَ يرِثُ مِنْ آلِ يعْقُوبَ،» کوم ميراث چې له ابراهيم، له اسحاق، له يعقوب او له يوسف رسېدلی وو، پاسوالي يې وکړي، دا امانت هغه ته وسپاري او هغه د توحيد د وادي د هاغو هاديانو لار وغځوي. نو څرګندوي چې د هغه مسئله يوازې د زوی درلودل نه دي. مطلب يې له خپله ځانه وروسته د پيغمبرانو د معنويت له ميراثه دی چې داسې نه چې په ميدان کې پاتې شي او له هغه وروسته داسې څوک نه وي چې د هغه سنتو ته ادامه ورکړي. «يرِثُنِي وَ يرِثُ مِنْ آلِ يعْقُوبَ وَ اجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيا.» [مريم ٦(١٩:٦)]. چې زما او د يعقوب د آل [د نبوّت د امانت] وارث وي، پالونکی ښتنه، له ده هاغه غوره څوک جوړ کړه چې ته ترې راضي اوسې.

نو، د ديني سرلارو او رهبرانو اصلي مسئله او اصلي تشويش د دين او معرفت د لارې بقا او تل پاتېتوب دی او هغه کسان چې بايد ددې امانت بار په اوږو کش کړي او د نورو لاس ته يې ورسوي.

په هر حال، لکه څنګه چې مو مخکې ووېل، د پيغمبر د کورنۍ اصلي نقش – [نه دا چې نورو کوم نقش نه درلود] – د پيغام رسول او له قرآني پيغامونو پاسوالي ده. د مثال په ډول که نهج البلاغه او د حضرت علي خبرې د قرآن په اړه، او نقش يې، او همدا راز چې ويلي يې دي دا کتاب څنګه يو ګوهر زموږ په لاسونو کې دی، د نورو ستايونکو له خبرو او په هغه دوره کې د بني اميه او بني عباس په منځ کې د اهل علم له خبرو سره پرتله کړئ او قضاوت وکړئ چې څه توپير د حضرت علي او د هغوی د خبرو تر منځ شتون لري.

نو ددې سورت وروستی آيت د هاغو ناوړو لنډفکرو د هيلو او اميدونو پرعکس، له ټينګې او مؤکدې وړاندوينې سره اعلاموي چې هاغه څوک ابتر دي چې د کوثر له لرونکي سره کينه او دښمني په زړه کې لري، نه دا چې د کوثر لرونکی. کوثر چون د حق او خير او کمال سرچينه ده چې د نبوت او لوړپوړو انسانانو د

خلقت او ضمير له دننه خوټېږي، تل خوځښت او جريان لري او هر لور ته مخکې ځي که څه هم په ځرگنده توگه نه بريښي. باطل او شر که هر څومره ځواکښودنه وکړي او سترگې وبرېښوي او اغېزمن ښکاره شي، چون سرچينه او پايه او مايه نه لري وچ بې ټيکاوه، بې ستې او «ابتر» دی که څه هم د لنډ فکري په ليد کې چې ورځ زمانه گڼي، ثابت او ټيکاو وبرېښي. د حق او د هغه د آيتونو له ليده زمان او وخت له ورځې زيات دی، مهاليز، شيبه يي او نابېره نه دی، د کوثر لرونکی او د هغه منطق او آئين د نور، زمان او کائناتو په اوږدو کې جريان مومي او مخکې ځي، او دښمنان يې ابتر پاتېږي او نشت او زائل کېږي، که لنډ اندي رټلي او باطل ته سرټيټي او ناوړه ناکسان يې مني او که يې نه مني. خو د عربو مغرورو بت تورونکو او بت پالونکو په غوږونو کې، چې دې آيت، د ټينگار، تأکيد او قاطع لحن سره انگازه وکړه، باور يې پرې کاوه چې پخپله دوی او ددوی نسل چې پيړی پيړی يې پر نورو خلکو واکمني کوله او هاغه انگېرني او وهمونه چې له زمانو راهيسي پر دوی برلاسي ول، مخ په ځوږ او نشتېدو روان دي. راتلونکو وليدل او موږ هم وليدل چې څه ډول هغوی تيارو ته ولاړل، او د کوثر لرونکي ځلا او تل پاتېتوب وموند.

په پای کې؛ يو ځل بيا سورة له ډېر غور او پاملرنې سره لولو: إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ. فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ. إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ. ددې خبرو مخاطب حضرت رسول اکرم دی، خو د پيغمبر(ص) پليونان او لارويان هم دنده لري چې خپل ځانونه کوثر ته وصل کړي. هاغه کوثر چې بې بريده او نا پايه دی، چې موږ هم وکولی شو په خپل حد کې، له قرآني حقيقتونو څخه له برخمنتيا سره، خپل وجود د هغې له خوټېدونکي او برکتناکي چينې سره وصل کړو. له کومې لارې؟ د فصلّ لربّک وَانْحَرْ له لارې، يعنې خدای ته په مخ کونه او د خلکو لپاره له خپلو گټو څخه د ځان تېرېدنې او ايثار او قربانۍ له لارې. حق د خدای له لورې دی او د کوثر د چينې په څېر به ادامه ولري. او په دې هم باور ولرو چې د باطل اهل، چې

له هر مکتب او مسلك او مرامه وي، په پای کې ستونزو او بندې کوڅې ته رسيږي او هڅې به يې بې ببرې پرې شوې، بې ستې،غوڅې او ابتر وي، ځکه چې جهان د حق او حقيقت پر بنسټ بنا شوی دی.

پالونکی څښتنه! موږ ددغه «کثير خير» له برکتونو چې تا خپل پيغمبر او استازي ته لورولي دي مه بې برخې کوه!

پاکه ربه! ته پوهېږې چې موږ ستا د پيغمبر له اهـل، زوزات او سپېڅلو يـارانو سره د زړه له تله مينه کوو، موږ د هاغه حضرت د اهل په ډله کې محشور کړه!

پالونکی ربه: د هاغه حضرت او د هغه د آئين عظمت او پـرتم ډېـر زيـات دی، ورځ تر بلې، پر دغه عظمت، عزت، شوکت، برم او پرتم ورزيات کړه! آمين.

صدق الله العليّ العظيم.

---

**يادونه**: ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ــ نظم قرآن ــ د عبدالعلي بازرگان لیکنه
۲ــ آشنايي با قرآن ــ د مرتضی مطهري ليکنه
۳ــ في ظلال القرآن ــ د سيد قطب لیکنه
۴ــ تفهيم القرآن ــ د مولانا سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه
۵ــ تدبر قرآن ــ د مولانا امين احسن اصلاحي ليکنه
۶ــ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ــ عبدالعلي بازرگان
۷ــ الميزان في تفسيرالقرآن ــ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
۸ــ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ــ مولانا محمود الحسن ديوبنـدي او علامـه شـبيراحمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله
۹ــ پرتوی از قرآن ــ د سيد محمود طالقاني ليکنه
۱۰ــ تفسير نمونه ــ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه
۱۱ــ تفسير نور ــ د مصطفی خرمدل ليکنه
۱۲ــ تابشي از قرآن ــ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه
۱۳ــ تفسير باران ــ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه

۱۴ ــ ترجمه تفسير طبري ــ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح
۱۵ ــ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناگړهي
۱٦ ــ معارف القرآن ـــ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
۱۷ ــ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـــ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ــ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي
۱۸ ــ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی
۱۹ ــ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ــ مولوي قيام الدين کشاف
۲۰ ــ عزيزالتفاسير ــ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ــ مولوي سلطان عزيز (عزيز)
۲۱ ــ صفوةالتفاسير ــ د محمدعلي الصابوني ليکنه ــ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۲ ــ د قرآن پلوشې ــ د ګلب الدين حکمتيار لیکنه
۲۳ ــ تفسير دېوبندي ــ د مولوي عبدالحنان لیکنه
۲۴ ــ حکمة القرآن ــ د مولوي امين الله پېښاوری لیکنه
۲۵ ــ تفسير ايوبي حنفي ــ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لیکنه
۲٦ ــ تفسير احسن الکلام ــ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
۲۷ ــ قرآن کريم په پښتو ــ د اجرالدين اقبال ژباړه
۲۸ــ شرحي بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان وېب پاڼه [bazargan.com]
۲۹ ــ تفسير روح القرآن ــ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.
۳۰ ــ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ــ مولوي جانباز سرفراز
۳۱ ــ روح المعاني فی تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانی ـــ العلامه ابی الفضل شهاب الدين محمودالالوسی البغدادي
۳۲ ــ تفسير جواهرالقرآن ــ مولانا حسين علي
۳۳ ــ تفسير روح البيان ــ شيخ اسماعيل حقی البروسوی
۳۴ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي
۳۵ ــ کشف الاسرار و عُدة الابرار ــ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري
۳٦ ــ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي
۳۷ ــ تفسير الفخرالرّازی المشهور بالتفسيرالکبير و مفاتيح الغيب، امام محمد الرازی فخرالدين
۳۸ ــ التّفسيرالمبين ــ دوکتور عبدالرحمن بن حسن النّفيسه
۳۹ ــ تفسير قرطبی ــ محمد بن احمد بن ابوبکر قرطبي، ترجمه اردو: پيرمحمد کرم شاه